طريقة الاجراء في النحو

مرتب: شفيع الله (فرهاد)

تقريظ: استاذنا و استاذ العلماء شيخ النحو و الصرف حضرت مولانا عبيد الله خضداري (مدظله العالى) مقيم دار العلوم خضدار.

بطرز: استاذنا و استاذ العلماء شيخ النحو والمنطق حضرت مولانا قاضي سعيد احمد (مدظله العالى) مقيم دار العلوم منګوچر.

خصوصيات: د اجمالي اجراء او د تفصيلي اجراء طريقه او د هر سبق مطابق د اجمالي او تفصيلي اجراء حل شوى مثال.

كاتب: طالب العلم حبيب الرحمن (ابوالفراح)

بسم الله الرحمن الرحيم
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْمَرْفُوْعِ شَأْنُهُ الْمَنْصُوْبِ بُرْهَانُهُ الْمَجْرُوْرِ سُلْطَانُهُ و الصَّلَاةُ و السَّلَامُ عَلى نَبِيِّهِ الْمَجْزُوْمِ خِتَامُهُ وَ عَلى آلِهِ الْمَخْتُوْمِ عَلَيْهِمْ رِضْوَانُهُ اَمَّا بَعْدُ:

تقريظ

استاد العلماء نمونه اسلاف امام الصرف والنحو استادنا حضرت مولنا عبيد الله خضداري صاحب مد ظله العالى مهتمم دار العلوم خضدار بلوچستان

مُبَسْمِلًا وَ مُحَمِدًا وَ مصليًا و مسلمًا

اَمَّا بَعْدُ: عزيزي برادرم مولوي شفيع الله (حفظه الله تعالى) نے طالب علمی کے زمانیں میں ایک مجموعه ترتيب دیا هے جس میں علم نحو کے قواعد کو ذکر کیا هے. علم نحو کي تعلم کے لے يه فائده مند هے طلبه غزيزاں کیلے ایک تیار مواد جمع کیا هے يه مسائل درسي کتابوں میں باقاعده طور پر مذکور ہیں الله کریم اِس سعی کو شرف قبولیت بخشے اور طالبانِ نحو کو استفاده کي توفيق بخشے آمين

کتبه: محمد عبيد الله عفا الله عنه
خضداري مقيم دار العلوم خضدار ۱۶ذوالحجه سنه ۱۴۴۱هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

د اجمالي اجراء طريقه:

١- په دا جمله کې کلمات وباسه!

٢- اسم، فعل اوحرف وباسه!

٣- علامات يې بيان کړه!

٤- مبني اصل بيان کړه!

٥- د اسم غير متمکن اول قسم(ضمائر) وباسه!

٦- متصل که منفصل دی؟

٧- مرفوع که منصوب که مجرور دی؟

٨- مستتر که بارز دی؟

٩- که مستتر وي: واجب الاستتار دی او که جائز الاستتار دی؟

١٠- مرجع يې بيان کړه! لفظي که معنوي که حکمي ده؟

١١- اسماء اشارات وباسه!

١٢- مکاني که غير مکاني ده؟

۱۳- قريب،که بعيد او که د متوسط لپاره ده؟

۱۴- د مذکر که د مؤنث لپاره ده؟

۱۵- د واحد ،که د تثنيې او که د جمعي لپاره ده؟

۱۶- مشاراليه يې مذکوره ده که محذوف؟

۱۷- که مذکوره وي مقدم ده که مؤخر؟

۱۸- په ترکيب کې څه شی جوړيږي!

۱۹- اسماء موصولات وباسه!

۲۰- مشترک(عام) که غير مشترک(خاص) دی؟

۲۱- صله يې جمله که قائم مقام د جملې ده؟

۲۲- د جملې او قائم مقام د جملې څخه څو- څو شيان مراد دي!

۲۳- عائد يې خپله عائد دی که قائم مقام د عائد دی؟

۲۴- په ترکيب کې څه شی جوړيږي؟

۲۵- اسماء افعال وباسه!

۲۶- په معنی د امر که په معنی د فعل ماضي دی؟

۲۷- اسماء اصوات وباسه!

۲۸- اسماء ظروف وباسه!

۲۹- زماني که مکاني که مشترک دي؟

۳۰- د مفرد که د جملې طرف ته مضاف دی؟

۳۱- واجب الاضافت که جائز الاضافت دی؟

۳۲- په ترکيب کې څه شی جوړيږي؟

۳۳- اسماء کنايات وباسه!

۳۴- کنايه اذ عدد که اذ حديث؟

۳۵- که کم وي: کم استفهاميه که کم خبريه ده؟

۳۶- په دا جمله کې مرکب بنائي وباسه!

۳۷- اسم معرب وباسه!

۳۸- که غير منصرف وي اسباب يې بيان کړه!

۳۹- حالت رفعي، که نصبي او که جري دی؟

۴۰- فعل معرب وباسه!

۴۱- د پنځو که د أوو صيغو څخه دی؟

۴۲- صحيح ده که معتل؟ که معتل وي: واوي، که يايې او که الفي دی؟

۴۳- حالت رفعي، که نصبي او که جري دی؟

۴۴- معرفه او نکره وباسه!

۴۵- د معرفې اقسام بيان کړه!

۴۶- مذکر او مؤنث وباسه!

۴۷- که مؤنث وي سماعي دی که قياسي؟

۴۸- که سماعي وي واجب التانيث دی که جائز التانيث؟

۴۹- مؤنث حقيقي که مؤنث لفظي دی؟

۵۰- واحد، تثنيه او جمع وباسه!

۵۱- جمع مکسره ده که جمع سالم؟

۵۲- که جمع مکسره وي: اقصی (منتهی الجموع) ده که غير اقصی(غير منتهی الجموع) ده؟

۵۳- جمع قلته که جمع کثرته؟

۵۴- د مرکب غير مفيد اول قسم (مرکب اضافي) وباسه!

۵۵- اضافت لفظي دی که معنوي؟

۵۶- د مضاف او مضاف اليه کومه علامه پکښي شته؟

۵۷- مرکب توصفي وباسه!

۵۸- د مرکب توصفي کومه علامه پکښي شته؟

۵۹- مرکب بنايي وباسه!

۶۰- مرکب منع الصرف وباسه!

۶۱- مرکب صوتي وباسه!

۶۲- د مرکب مفيد څخه جمله خبريه وباسه!

۶۳- جمله اسميه وباسه! مبتداء او خبر يې معلوم کړه!

۶۴- جمله فعليه وباسه!

۶۵- اجزاء اصلي او اجزاء زائد يې معلوم کړه!

۶۶- جمله شرطيه وباسه! شرط او جزاء يې معلوم کړه!

۶۷- جمله انشائيه وباسه!

۶۸- که انشائيه وي: طلبي که غير طلبي ده؟ که هره يوه وي قسم يې بيان کړه!

۶۹- د حروف عامله اول قسم (حروف جاره) وباسه!

۷۰- ظرف لغوه ده که مستقر؟

۷۱- که ظرف مستقر وي: د څلورو قسمو څخه کوم قسم دی؟

۷۲- د حروف عامله دوهم قسم (حروف مشبه بالفعل) وباسه!

۷۳- د اسم او خبر تعین يې وکړه!

۷۴- دریم قسم (ما و لا مشبهتان بلیس) وباسه!

۷۵- د اسم او خبر تعین يې وکړه!

۷۶- څلورم قسم لای نفي جنس وباسه!

۷۷- د اسم او خبر تعین يې و کړه!

۷۸- د اسم د څلورو حالاتو څخه کوم حالت دی!

۷۹- حروف نواصب وباسه!

۸۰- که اَنْ وي: اَنْ ظاهره او که مقدره ده؟

۸۱- که اَنْ مقدره وي: کوم ځای دی!

۸۲- حروف جوازم وباسه!

۸۳- جزم يې په کومه طریقه دی؟ یعني په حذف که په سکون سره؟

۸۴- که اِنْ وي: مقدره او که ظاهره ده؟

۸۵- که اِنْ ظاهر وي شرط او جزاء يې معلوم کړه!

۸۶- که مقدره وي د څه شي په جواب کې واقع شوی!

۸۷- په جزاء يې فاء راوړل واجب که جائز او که ممتنع دی؟

۸۸- فعل متعدي او فعل لازمي معلوم کړه!

۸۹- مفاعيل خمسه وباسه!

۹۰- حال او ذوالحال وباسه!

۹۱- ذوالحال معرفه ده که نکره؟

۹۲- که نکره وي تخصيص يې په څه شي حاصل کړی؟

۹۳- که حال جمله خبريه وي: رابط يې څه شی دی؟

۹۴- فاعل وباسه!

۹۵- اسم ظاهر که اسم ضمير دی؟

۹۶- که اسم ظاهر وي: فعل يې مذکر که مؤنث دی؟

۹۷- تذکير يې واجب دی که جائز دی؟

۹۸- فعل مجهول وباسه! او نائب فاعل يې معلوم کړه!

۹۹- افعال ناقصه وباسه!

۱۰۰- اسم او خبر يې معلوم کړه!

۱۰۱- افعال مدح او ذم وباسه!

۱۰۲- د فاعل يې دري صورته بيان کړه!

۱۰۳- د مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم تعين يې وکړه!

۱۰۴- اسماء عامله اول قسم (اسماء شرطيه) وباسه!

۱۰۵- په ترکيب کې څه شی جوړيږي؟

۱۰۶- اسم فاعل او اسم مفعول وباسه!

۱۰۷- څه عمل کوي؟

۱۰۸- اعتماد يې په څه شي کړی؟ او په کوم صورت کې اعتماد غواړي؟

۱۰۹- صفت مشبه وباسه! او اعتماد يې په څه شي کړی؟

۱۱۰- اسم تفضيل وباسه!

۱۱۱- په درو حالتو کې کوم حالت دی؟

۱۱۲- مصدر وباسه! څه عمل کوي؟

۱۱۳- مضاف او عمل يې بيان کړه!

۱۱۴- اسم تام او اسم کنايه وباسه!

۱۱۵- مبتداء او خبر سته؟ کوي تعين يې وکړه!

۱۱۶- فعل مضارع او فاعل يې بيان کړه!

۱۱۷- موصوف او صفت وباسه!

۱۱۸- صفت بحاله که صفت بحال متعلقه؟

۱۱۹- مبدل منه او بدل وباسه!

۱۲۰- د بدل کوم قسم دی؟

۱۲۱- مؤکد او تاکید وباسه!

۱۲۲- تاکید لفظي که تاکید معنوي دی؟

۱۲۳- عطف بحرف وباسه!

۱۲۴- حروف عاطفه څو دي؟ تعین يې وکړه!

۱۲۵- عطف مفرد على المفرد که الجمله على الجمله ده؟

۱۲۶- مبین او عطف بیان وباسه!

۱۲۷- حروف غیر عامله وباسه!

۱۲۸- حروف غیر عامله په څو قسمه دي؟ دا يې کو قسم دی؟

۱۲۹- مستثنی او اعراب يې بیان کړه!

۱۳۰- د مستثنی د اقسامو څخه کوم قسم دی؟

د اجمالي اجراء حل شوی مثال :

﴿وَ لَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَاءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَى رَبِّيْ اَنْ يَهْدِيْنِيْ سَوَاءَ السَّبِيْلِ﴾ [سورة القصص ٢٢]

استاذ: په دا جمله کې کلمات وباسه او تعداد يې بيان کړه!

شاګرد: ١٩ کلمات دي (وَ)، (لَمَّا)، (تَوَجَّه)، په توجه کې (هَوَ) ضمير، (تِلْقَاءَ)، (مَدْيَن)، (قَالَ)، په قال کې (هَوَ) ضمير، (عَسَی)، (رَب)، (ی) ضمير، (اِنْ)، (يهدی)، يهدي کې (هو) ضمير، (ن) وقايه، (ی) د متکلم، (سواء) او (سبيل) (الف لام) په السبيل کې.

استاذ: څو اسمونه دي؟ تعين يې وکړه!

شاګرد: ١١ اسمونه دي لَمَّا، هَوَ، تلقاء، مَدين، هو، رب، ی، هو، سواء، سبيل او (ی).

استاذ: علامات يې بيان کړه! لفظي که معنوي په شروع کې او په اخر کې او که تر مجموع پوري تعلق لري؟

شاګرد: د (لَمَّا) علامه اسم غير متمکن ده، تر مجموع پوري تعلق لري، معنوي علامه يې اضافت دی. (هَوَ)

اسم غير متمکن دی، (تلقاء) اسم غير متمکن دی، بله علامه يې اضافت دی، (مَدْيَنَ) عَلَمْ دی تر مجموع پوري تعلق لري، (هَوَ) اسم غير متمکن دی، (رب) اضافت او مسند اليه دي دواړه معنوي علامې دي، (هَوَ) اسم غير متمکن دی، (ی) اسم غير متکن دی، (سَواء) علامه اضافت دی معنوي ده، (السبيل) علامه يې الف لام دی تر شروع پوري تعلق لري.

استاذ: افعال وباسه او علامه يې بيان کړه!

شاګرد: (تَوَجَّه) فعل دی علامه يې مبني بر فتحه تر آخر پوري تعلق لري. بله علامه يې مسند دی تر مجموع پوري تعلق لري. (قَالَ) فعل دی مبني بر فتحه او مسند دی. (عَسَی) فعل دی مبني بر فتحه او مسند دی (يَهْدِی) فعل دی علامه يې اَنْ ناصبه او حرف اتين دي دواړه تار شروع پوري تعلق لري، بله علامه يې مسند دی تر مجموع پوري تعلق لري.

استاذ: حروف او تعداد يې بيان کړه!

شاګرد: څلور حروف دي: (واو)، (اَنْ)، (نون وقايه) او (الف لام) دی.

استاذ: مبني الاصل بيان کړه! څو دي؟ او تعين يې وکړه!

شاګرد: پنځه دي (واو) مبنی الاصل حرف دی، (قَالَ) او (عَسَی) دواړه مبني الاصل ماضي دي، (اَنْ) او (الف لام) دواړه مبني الاصل حروف دي.

استاذ: د اسم غير متمکن اول قسم (ضمائر) وباسه!

شاګرد: په تَوَجَّه کې هو ضمير دی.

استاذ: متصل که منفصل دی؟

شاګرد: متصل دی.

استاذ: مرفوع که منصوب او که مجرور دی؟

شاګرد: مرفوع دی.

استاذ:مستتر که بارز دی؟

شاګرد: مستتر دی.

استاذ: واجب الاستتار او که جائز الاستتار دی؟

شاګرد: جائز الاستتار دی.

استاذ: مرجع يې لفظي، که معنوي او که حکمي ده؟

شاګرد: مرجع يې لفظي ده موسی (عليه السلام) ته راجع دی په مخکي کلام کې ذکر دی.
په قال کې (هو) ضمير مرفوع متصل مستتر جائز الاستتار دی، مرجع يې لفظي موسی (عليه السلام) ته راجع دی.
په (ربي) کې (ياء) ضمير مجرور متصل مجرور به اضافت دی.
په يهدي کې (هو) ضمير مرفوع متصل مستتر جائز الاستتار دی، مرجع يي لفظي (ربي) ته راجع دی.
استاذ: اسماء ظروف وباسه!
شاګرد: (لَمَّا) او (تلقاء) دي.
استاذ: (لَمَّا) په اعتبار د معنی سره کوم قسم دی؟
شاګرد: زماني دی.
استاذ: په اعتبار د اضافت سره کوم قسم دی؟
شاګرد: د جملې وطرف ته مضاف دی.
استاذ: واجب الاضافت که جائز الاضافت دی؟
شاګرد: واجب الاضافت دی.
استاذ: (تِلْقَاء) کوم قسم دی؟

شاګرد: مکاني د مفرد و طرف ته مضاف دی.

استاذ: اسم معرب وباسه!

شاګرد: (مَدْيَنَ) اسم معرب په شپاړسو قسمو کې پنځم قسم غير منصرف دی. سببونه يې علميت او تانيث معنوي دی.

استاذ: کوم حالت يې دی؟

شاګرد: حالت جري تابع د نصبي دی.

(رَبِّي) د اسم معرب په شپاړسو قسمو کې څوار لسم قسم دی چي غير جمع مذکر سالم مضاف بيا متکلم دی. حالت رفعي دی. رفعه يې په تقدير د ضمي سره ده د عسی لپاره اسم دی.

(سَوَاءَ) د اسم معرب اول قسم مفرد منصرف صحيح دی، حالت نصبي مفعول به د يهدي لپاره دی.

(اَلسَّبِيْل) هم مفرد منصرف صحيح حالت جري مضاف اليه د سواء لپاره دی.

استاذ: فعل معرب وباسه!

شاګرد: يهدي دی.

استاذ: د پنځو که د أوو صيغو څخه دی؟
شاګرد: د پنځو صيغو څخه دی.
استاذ: صحيح که معتل واوي يا الفي يا يايې؟
شاګرد: معتل يا يې ده.
استاذ: کوم حالت دی؟
شاګر حالت نصبي دی، نصب يې په فتحه لفظي سره دی.
استاذ: معرفه او نکره وباسه!
شاګرد: (لَمَّا)، (تلقاء)، (رب) او (سواء) معرفه بالاضافت دي.
په (توجه) کې (هو) ضمير په (قال) کې (هو) ضمير په (ربي) کې (ياء) ضمير په (يهدي) کې (هو) ضمير معرفه په ضمير سره دي.
(السبيل) معرفه په الف لام سره ده
نکره نسته.
استاذ: مذکر او مؤنث وباسه!

شاګرد: (لَمَّا)، (هَوَ) او (تلقاء) د مذکر لپاره دي. په ربي کې (ياء) مشترک ده. (سَواءَ) مذکر دی.
(مَدْيَنَ) مؤنث دی.
استاذ: سماعي که قياسي دی؟
شاګرد: سماعي دی.
استاذ: واجب التانيث دی که جائز التانيث دی؟
شاګرد: جائز التانيث دی په تاويل د (موضع يا بلد) مذکر په تاويل د (بَقْعَةٌ يا بَلْدَةٌ) مؤنث دی (السبيل) هم مؤنث سماعي جائز التانيث دی.
استاذ: واحد، تثنيه او جمع وباسه!
شاګرد: (هو) او (ی) د واحد لپاره دي او (مَدْيّن)، (رب)، (سواء) او (السبيل) واحد دي.
استاذ: د مرکب غير مفيد اول قسم مرکب اضافي وباسه!
شاګرد: (لما)، (تلقاء)، (رب) او (سواء) دي.
استاذ: اضافت لفظي که معنوي دي؟
شاګرد: ټول اضافت معنوي دي.
استاذ: څه علامې يې دي؟

شاګرد: په (لما) کې اوله علامه لازم الاضافت دی، په (رب) کې دوهمه علامه د اسم ضمير څخه مخکې اسم د الف لام او تنوين څخه خالي راغلی دی، په (تلقاء) کې دريمه او يولسمه علامې دواړه ستة او په (سواء) کې اوله علامه ده.

استاذ: د مرکب مفيد اول قسم (جمله خبريه) وباسه!

شاګرد: (توجه)، (قال) او (يهدي) دی.

استاذ: د جملې اقسام يعني اسميه او فعليه وباسه!

شاګرد: جمله اسميه نسته ټولې جملې فعلیې دي

استاذ: اجزاء اصلي او زائد يې وباسه!

شاګرد: په (توجه) کې (هو) جزء اصلي فاعل دی، (تلقاء) يې جزء زائد مفعول فيه دی، د (قال) جزء اصلي (هو) دی، جزء زائد يې (عسی ربي...) مقوله ده او د (يهدي) جزء اصلي (هو) ضمير دی جزء زائد يې سواء السبيل مفعول به دی.

استاذ: جمله شرطيه وباسه!

شاګرد: توجه شرط او قال جزاء ده.

استاذ: د مركب مفيد دوهم قسم (جمله انشائيه) وباسه!

شاګرد: (عسى) جمله انشائيه ده.

استاذ: طلبي که غير طلبي ده؟

شاګرد: غير طلبي ده د غير طلبي د ۱۱ اقسامو څخه وهم قسم فعل مقارب دى.

استاذ: حروف عامله وباسه!

شاګرد: (اَنْ) حرف عامل دى.

استاذ: ظاهره که مقدره ده؟

شاګرد: (اَنْ) ظاهره ده فعل مضارع ته نصب ورکوي.

استاذ: فعل متعدي او لازمي وباسه!

شاګرد: (توجه) فعل متعدي تلقاء يې مفعول، (قال) متعدي عسى ... يي مقوله (يهدي) متعدي ياء مفعول اول او سواء السبيل يې مفعول الثاني او (عسى) متعدي ربي يې اسم ان يهدي يې خبر.

استاذ: اسماء شرطيه وباسه!

شاګرد: (لما) اسم شرط دى.

استاذ: په ترکیب کې څه شی جوړیږي؟

شاګرد: د شرط طرف ته مضاف د جزاء لپاره مفعول فيه جوړیږي.

استاذ: اسماء عامله وباسه!

شاګرد: (لما)، (تلقاء)، (رب) او سواء ټول مضاف دي.

استاذ: حروف غیر عامله وباسه!

شاګرد: (واو) او الف لام دی.

د تفصیلي نحوي اجراء طریقه:

۱- کلمات وباسه!

۲- کلمه په درې قسمه ده (اسم، فعل او حرف) اول قسم (اسم) وباسه!

۳- علامې یې بیان کړه!

۴- علامه یې لفظي ده که معنوي؟

۵- که لفظي وي: تر اول، که تر آخر او که تر مجموع پوري تعلق لري؟

۶- د کلمې دوهم قسم (فعل) وباسه!

۷- علامه یې بیان کړه!

۸- تر شروع، كه تر آخر او كه تر مجموع پوري تعلق لري؟

۹- د كلمې دريم قسم (حرف) وباسه!

۱۰- مركب په دوه قسمه دى (مفيد او غير مفيد) اول قسم مفيد وباسه!

۱۱- جمله ده كه كلام فرق يې بيان كړه؟

۱۲- كه جمله وي د اتو ځايو څخه كوم ځاى دى؟

۱۳- جمله په اعتبار د مفهوم سره په دوه قسمه ده (خبريه او انشائيه) دا كوم قسم دى؟

۱۴- كه جمله خبريه وي: د خبر يې اول قسم (جمله اسميه) وباسه!

۱۵- د جملې اسميې عامه او خاصه علامات بيان كړه!

۱۶- د جملې اسميې اول جزء (مبتداء) حذف ده كه ذكر؟

۱۷- كه حذف وي: د پنځلسو ځايو څخه كوم ځاى دى؟

۱۸- مبتداء په ديار لس ځايو كښې مقدمه وي! دا كوم ځاى دى؟

۱۹- مبتداء معرفه ده که نکره؟
۲۰- که نکره وي تخصيص يې په څه شي حاصل کړی؟
۲۱- د تخصيص په اتلسو ځايو کې کوم ځای دی؟
۲۲- مبتداء په اته ځايه کې متضمن معنی لره د شرط وي: دلته سته؟ که متضن وي کوم ځای دی؟
۲۳- خبر حذف دی که ذکر؟ که حذف وي د لسو ځايو څخه کوم ځای دی؟
۲۴- خبر جمله ده که مفرد؟ که جمله وي شرائط يې بيان کړه!
۲۵- خبر د مبتداء سره په پنځو شيانو کې موافقت غواړي، بيان يې کړه!
۲۶- د جملې خبر يې دوهم قسم (جمله خبريه) وباسه!
۲۷- اجزاء اصلي او اجزاء زائد وباسه!
۲۸- د اجزاء اصلي څخه اول قسم فعل دی: ماضي، که مضارع او که امر دی؟
۲۹- د اجزاء اصلي څخه دوهم قسم فاعل دی: اسم ظاهر او که ضمير دی؟

۳۰- كه ضمير وي په څو ځايو كې ضمير راځي؟
۳۱- د جملې خبرېې دريم قسم (جمله ظرفيه) وباسه!
۳۲- جزء اول يې ظرف كه جار مجرور دى؟
۳۳- په شپږو شيانو كې اعتماد په څه شي كېږى؟
۳۴- د جملې خبرېې څلورم قسم (جمله شرطيه) وباسه!
۳۵- حروف شرطيه وربانديي داخل دي او كه اسماء شرطيه؟ د هر يوه تعداد بيان كړه!
۳۶- جمله د مفهوم په اعتبار سره په دوه قسمه وه دوهم قسم انشائيه وباسه!
۳۷- انشائيه په اعتبار د ذات سره په درې قسمه ده: (اسميه، فعليه او ظرفيه) دا كوم قسم ده؟
۳۸- انشائيه طلبي ده كه غير طلبي ؟
۳۹- كه طلبي وي د طلبي د شپږو اقسامو څخه كوم قسم دى؟
۴۰- كه غير طلبي وي د يو لسو اقسامو څخه كوم قسم دى؟

۴۱- جمله په اعتبار د صفت سره په لس قسمه ده: (۱) استنافيه (۲) مبينه (۳) ابتدائيه (۴) معترضه (۵) معلله (۶) نتجيه (۷) حاليه (۸) معطوفه (۹) قسميه (۱۰) ندائيه. دا کوم قسم ده؟

۴۲- جمله په اعتبار د شکل او هيئت سره په دوه قسمه ده: (۱) صغرى (۲) کبرى د اکوم قسم دى؟

۴۳- جمله په اعتبار د ترکيب سره په دوه قسمه ده (۱) چې محل د اعراب لري پنځلس دي (۲) چې محل د اعراب نه لري دولس دي دا کوم قسم جمله ده؟

۴۴- د مرکب دوهم قسم غير مفيد وباسه!

۴۵- تقيدي که غير تقيدي دى؟

۴۶- د تقيدي اول قسم (مرکب اضافي) وباسه!

۴۷- لفظي او معنوي علامې يې وباسه!

۴۸- لفظي علامې يو لس دي دا کومه علامه ده؟

۴۹- معنوي دوې دي دا کوم علامه ده؟

۵۰- اضافت لفظي که معنوي دى؟

۵۱- د اضافت لفظي او معنوي څخه څه شی مراد دی؟ او څه فائده ورکوي؟

۵۲- که اضافت معنوي وي: د دریو اقسام څخه کوم قسم دی؟

۵۳- واجب الاضافت، که جائز الاضافت او که ممتنع الاضافت دی؟ د هر یو تعداد بیان کړه!

۵۴- مضاف د مضاف الیه څخه دیارلس شیان حاصلوي، دلته یې څه شی حاصل کړی؟

۵۵- د مضاف او مضاف الیه په منځ کې فاصله سته؟

۵۶- که وي ضروریه او که اختیاریه ده؟

۵۷- که ضروریه وي: بالاجنبي او که بغیر الاجنبي ده؟

۵۸- که په اجنبي سره وي په درو اقسامو کې کوم قسم دی؟ که غیر اجنبي وي هم په درو اقسامو کې کوم قسم دی؟

۵۹- که فاصله اختیاریه وي په پنځو صورتو کې کوم صورت دی؟

۶۰- مضاف د دوو شيانو څخه خالي کول ضروري دي دلته خالي دی؟

۶۱- د مرکب تقيدي دوهم قسم (مرکب توصفي) وباسه!

۶۲- لفظي او معنوي علامې يې بيان کړه! لفظي <u>۱۱</u> دي کومه يوه ده؟

۶۳- د مرکب غير تقيدي اول قسم (مرکب بنائي) وباسه!

۶۴- د مرکب بنائي د درو اقسامو څخه کوم قسم دی!

۶۵- د مرکب غير تقيدي دوهم قسم (مرکب منع الصرف) وباسه!

۶۶- د مرکب غير تقيدي دريم قسم (مرکب صوتي) وباسه!

۶۷- کلمه د دوهم تقسيم په اعتبار سره هم په دوه قسمه ده: (۱) مبني (۲) معرب مبني بيا په دوه قسمه دی(۱) مبني الاصل (۲) غير الاصل. مبنى الاصل وباسه! او تعداد يې بيان کړه!

۶۸- د مبني غير الاصل د څلورو اقسامو څخه اول قسم (اسم غير متمکن) وباسه!

۶۹- د اسم غير متمكن د اتو اقسامو څخه اول قسم (مضمرات) وباسه!

۷۰- مرفوع، كه منصوب او كه مجرور دى؟

۷۱- متصل كه منفصل دى؟

۷۲- كه مرفوع متصل وي مستتر او كه بارز دى؟

۷۳- كه مستتر وي واجب الاستتار او كه جائز الاستتار دى؟

۷۴- د متكلم ، كه د مخاطب، او كه د غائب لپاره دى؟

۷۵- كه د غائب لپاره وي، مرجع لفظي، كه معنوي او كه حكمي ده؟

۷۶- د لسو شبه څخه كومه يوه پکښي سته؟

۷۷- ضمير په اعتبار د صفت سره په پنځه قسمه دى: (۱) ضمير شان (۲) ضمير قصه (۳) ضمير مبهم (۴) ضمير تاكيد (۵) ضمير فصل. دلته سته؟

۷۸- اضمار قبل الذكر سته؟ كه وي په أوو ځايو كې جائز دى، دا كوم ځاى دى؟

۷۹- د اسم غير متمكن دوهم قسم (اسماء اشارات) وباسه!

۸۰- مكاني كه غير مكاني ده؟

۸۱- د قريب، كه بعيد اوكه د متوسط لپاره ده؟

۸۲- مشار اليه يې مذكور كه محذوف دى؟

۸۳- كه محذوف وي د أوو ځايو څخه كوم ځاى دى؟

۸۴- په تركيب كې څه شى جوړيږي؟

۸۵- كومه شبه پكښې سته؟

۸۶- د اسم غير متمكن دريم قسم (اسماء موصولات) وباسه!

۸۷- موصول اسمي دى كه موصول حرفي ؟

۸۸- مشترك (عام) كه غير مشترك (خاص) دى؟

۸۹- صله يې جمله كه قائم مقام د جملې ده؟

۹۰- عائد يې خپله عائد دى كه قائم مقام د عائد دى؟

۹۱- په تركيب كې څه شى جوړيږي؟

۹۲- د اسم غير متمكن څلورم قسم (اسماء افعال) وباسه!

۹۳- که په معنی د فعل مضارع وي د نو اقسامو څخه کوم قسم دی؟

که په معنی د فعل ماضي وي د شپږو اقسامو څخه کوم قسم دی؟

که په معنی د فعل امر وي د اته ديرش اقسامو څخه کوم قسم دی؟

۹۴- مرتجل، که منقول او که معدول دی؟

۹۵- کومه شبه پکښې سته؟

۹۶- که هر يو وي څه عمل کوي؟

۹۷- د اسم غير متمکن پنځم قسم (اسماء ظروف) وباسه!

۹۸- دري تقسيمه يې دي (۱) په اعتبار د معنی سره په درې قسمه ده (۱) زماني (۲) مکاني (۳) مشترک دا کوم قسم دی؟

۹۹- د هر يوه تعداد بيان کړه!

۱۰۰- دوهم تقسيم په اعتبار د اضافت سره په دوه قمسه دی (۱) مفرد طرف ته مضاف وي (۲) د جملې طرف ته مضاف وي دا كوم يو دی؟

۱۰۱- كه د جملې و طرف ته مضاف وي واجب الاضافت كه جائز الاضافت دی؟

۱۰۲- دريم تقسيم په اعتبار د معنى سره په څلور قسمه دی تعداد او شبه يې بيان كړه؟

۱۰۳- د اسم غير متمكن شپږم قسم (اسماء اصوات) وباسه!

۱۰۴- د اسم غير متمكن وهم قسم (اسماء كنايات) وباسه!

۱۰۵- معرب دی كه مبني؟

۱۰۶- قول مبهم كه عدد مبهم دی؟

۱۰۷- د عامله او غير عامله تعين وكړه؟

۱۰۸- كه (كم) وي استفهاميه كه خبريه ده؟ فرق يې بيان كړه!

۱۰۹- وجه د بناء يې بيان كړه!

۱۱۰- د ترکیب یې مکمل وضاحت وکړه!
۱۱۱- د اسم غیر متمکن اتم قسم (مرکب بنائي) وباسه!
۱۱۲- اسم د دوهم تقسیم په اعتبار سره په دوه قسمه دی (۱) معرفه (۲) نکره د معرفې او نکرې تعین وکړه!
۱۱۳- که علم وي د پنځو اقسامو څخه کوم قسم دی؟
۱۱۴- (۷) وه داسي الفاظ دي چې هیڅ کله تعریف نه فایده کوي که یو شرط پکښي و بیا یې فایده کوي. دا کوم الفاظ دي؟
۱۱۵- اسم د دریم تقسیم په اعتبار سره په دوه قسمه دی (۱) مذکر (۲) مؤنث. د مذکر او مؤنث تعین وکړه!
۱۱۶- که مؤنث وي قیاسي که سماعي دی! که قیاسي وي څه علامه یې ده؟
۱۱۷- که سماعي وي واجب التانیث دی که جائز التانیث دی؟
۱۱۸- که مؤنث وي که مذکر. حقیقي که لفظي دی؟
۱۱۹- اسم د څلورم تقسیم په اعتبار په درې قسمه دی (۱) واحد (۲) تثنیه (۳) جمع. د هر یو تعین وکړه!

۱۲۰- جمع په اعتبار د تکسیر سره په شپږ قسمه ده تعین یې وکړه!

۱۲۱- جمع تکسیره که جمع تصحیح ده؟

۱۲۲- که تکسیره وي اقصی (منتهی الجموع) که غیر اقصی (غیر منتهی الجموع) ده؟

۱۲۳- که اقصی (منتهی الجموع) وي د درو اوزانو څخه کوم وزن دی؟

۱۲۴- که غیر اقصی (غیر منتهی الجموع) وي د څوارلسو اوزانو څخه کوم وزن دی؟

۱۲۵- که جمع تصحیح وي مذکر سالم که مؤنث سالم دی؟

۱۲۶- جمع په اعتبار د معنی سره په دوه قسمه ده (۱) قلته (۲) کثرته تعین یې وکړه!

۱۲۷- د کلمې دوهم تقسیم (معرب) په دوه قسمه دی (۱) اسم معرب (۲) فعل معرب اسم معرب بیا په شپاړلس قسمه دی: اول قسم مفرد منصرف صحیح وباسه!

۱۲۸- حالت رفعي، که نصبي او که جري دی؟

۱۲۹- اعراب يې حرفي که حرکتي دی؟

۱۳۰- تبعي که غير تبعي دی؟

۱۳۱- دوهم قسم (جاري مجری صحيح) وباسه! دريم قسم (جمع مذکر مکسره) وباسه! کوم يو دی؟

۱۳۲- څلورم قسم (جمع مؤنث سالم) وباسه!

۱۳۳- پنځم قسم (غير منصرف) وباسه!

۱۳۴- اسباب يې بيان کړه!

۱۳۵- که عدل وي تحقيقي که تقديري دی؟

۱۳۶- د عدل د شپږو اوزانو څخه کوم وزن دی؟

۱۳۷- که وصف وي وصف اصلي دی که وصف عرضي دی؟

۱۳۸- که تانيث وي تانيث بالالف که تانيث بالتاء ده؟

۱۳۹- که تانيث بالالف وي الف مقصوره که الف ممدوده ده؟

۱۴۰- که هر يو وي دوه- دوه شرطونه يې بيان کړه!

۱۴۱- که مؤنث بالتاء وي لفظي که معنوي؟

۱۴۲- که لفظي وي تاء مقدره که تا ظاهره؟
۱۴۳- که تاء ظاهره وي شپږ شرطونه يې بيان کړه!
۱۴۴- که تاء معنوي وي وجوبي او جوازي شرط يې بيان کړه!
۱۴۵- کې سبب معرفه وي څه شرط يې دی؟
۱۴۶- کې سبب عجمه وي دوه شرائط يې بيان کړه!
۱۴۷- د غير منصرف سبب که جمع وي دوه شرطه يې بيان کړه!
۱۴۸- که يې سبب ترکيب وي دوه شرطه يې بيان کړه!
۱۴۹- که يې سبب وزن فعل وي دوه شرطه يې بيان کړه!
۱۵۰- که يې سبب الف نون زائدتان وي د جامد که د مشتق په آخر کې دي؟ د هر يوه شرائط بيان کړه!
۱۵۱- شپږم قسم اسماء سته مکبره وباسه!
۱۵۲- شرائط يې بيان کړه!
۱۵۳- اعراب يې بيان کړه! دلته کوم حالت دی؟
۱۵۴- وهم قسم مثنی حقيقي او شرائط يې بيان کړه!

۱۵۵- اتم قسم مثنی صوري او شرائط يې بيان کړه!
۱۵۶- نهم قسم مثنی معنوي او شرائط يې بيان کړه!
۱۵۷- لسم قسم جمع حقيقي او شرائط يې بيان کړه!
۱۵۸- يو لسم قسم جمع صوري او شرائط يې بيان کړه!
۱۵۹- دولسم قسم جمع معنوي او شرائط يې بيان کړه!
۱۶۰- ديارلسم قسم اسم مقصور وباسه!
۱۶۱- څوارلسم قسم غير جمع مذکر سالم مضاف بيا متکلم وباسه!
۱۶۲- پنځلسم قسم اسم منقوص وباسه!
۱۶۳- شپاړلسم قسم جمع مذکر سالم مضاف بيا متکلم وباسه!
۱۶۴- د معرب دوهم قسم فعل معرب وباسه!
۱۶۵- صحيح که معتل واوي، که معتل يايې او که معتل آلفي دی؟
۱۶۶- حالت رفعي، که نصبي او که جري دی؟

۱۶۷- عامل لفظي په درې قسمه دي (۱) حروف عامله (۲) افعال عامله (۳) اسماء عامله. حروف عامله بیا په ۷ وه قسمه دي. اول قسم (حروف جاره) وباسه!

۱۶۸- څه عمل کوي؟

۱۶۹- ظرف لغوه که ظرف مستقر دی؟

۱۷۰- که ظرف مستقر وي د څلورو ځایو څخه کوم ځای دی؟

۱۷۱- په اعتبار د متعلق سره کوم قسم دی؟ یعني همیشه متعلق غواړي که یا؟

۱۷۲- په اعتبار د عمل سره کوم قسم دی؟ یعني په اسم ظاهر، که ضمیر او که په دواړو کې عمل کوي؟

۱۷۳- د حروف عامله دوهم قسم حروف مشبه بالفعل وباسه!

۱۷۴- څه عمل کوي؟ اسم و خبر یې متعین کړه!

۱۷۵- د حروف عامله دریم قسم ماولا مشبهتان بلیس وباسه!

۱۷۶- د عمل کولو لپاره یې څه شرائط دي؟

۱۷۷- څه عمل کوي؟ شرائط يې بيان کړه!

۱۷۸- د حروف عامله څلورم قسم لای نفي جنس وباسه!

۱۷۹- څه عمل کوي؟ شرائط يې بيان کړه!

۱۸۰- اسم و خبر يې معلوم کړه!

۱۸۱- د اسم د څلورو صورتو څخه کوم صورت دی؟

۱۸۲- د حروف عامله پنځم قسم حروف نداء وباسه!

۱۸۳- منادی په اعتبار د اعراب سره په شپږ قسمه ده، دلته کوم قسم دی؟

۱۸۴- که هر يو يې خپل شرائط يې بيان کړه!

۱۸۵- د حروف عامله شپږم قسم حروف نواصب وباسه!

۱۸۶- تعداد او عمل يې بيان کړه!

۱۸۷- اَنْ د شپږ ځايه څخه بعده مقدر کيږي دلته سته؟

۱۸۸- د حروف عامله وهم قسم حروف جوازم وباسه!

۱۸۹- تعداد او عمل يې بيان کړه!

۱۹۰- هغه چې په يو يا دو جملو کښې عمل کوي تعين يې وکړه!

۱۹۱- که شرط او جزاء وي: په جزاء فاء راوړل واجب، که جائز او که ممتنع ده؟ د هر يوه تعداد بيان کړه!

۱۹۲- باب دوهم افعال عامله دي، افعال عامله وباسه!

۱۹۳- فعل تام که فعل قاصر دی؟

۱۹۴- که فعل تام وي معلوم که مجهول دی؟

۱۹۵- که معلوم وي متعدي که لازمي دی؟

۱۹۶- څه عمل يې کړی؟ د معمول تعين يې وکړه!

۱۹۷- که يې په مفعول مطلق کې عمل کړی وي نوعي، که تاکيدي او که عددي دی؟

۱۹۸- که معمول مفعول فيه وي ظرف زمان که مکان دی؟

۱۹۹- که مفعول له يې پنځه شرائط يې بيان کړه!

۲۰۰- مفعول له حصولي که وجودي دی؟

۲۰۱- که حال وي، حال په اعتبار د بیان او توکید سره په دوه قسمه دی: (۱) مبينه (۲) مؤکده، دلته کوم قسم دی؟

۲۰۲- په اعتبار د انتقال وصف لزوم سره په څلور قسمه دی (۱) منتقله (۲) لزوميه (۳) مشتقه (۴) جامده، دا کوم قسم دی؟

۲۰۳- په اعتبار د ذوالحال سره په څلور قسمه ده (۱) حال حقيقيه (۲) مترادفه (۳) سببيه (۴) متداخله، دلته کوم قسم دی؟

۲۰۴- حال په اعتبار د قصد ذات سره په دوه قسمه دی (۱) مقصوده (۲) موطئه، دا کوم قسم دی؟

۲۰۵- حال په اعتبار د زمانې سره په دوه قسمه دی (۱) حال مقارنه (۲) مقدره، دا کوم قسم دی؟

۲۰۶- که معمول تمیز يې د ابهام رفع د ذات څخه کوي که د اجمال نسبت څخه؟

۲۰۷- فاعل اسم صریح، که اسم ضمیر او که اسم مؤول دی؟

۲۰۸- که ضمير وي بارز که مستتر دی؟

۲۰۹- که مستتر وي واجب الاستتار که جائز الاستتار دی؟

۲۱۰- فعل مجهول او عمل يې بيان کړه!

۲۱۱- څو شيان نائب فاعل جوړيږي څو نه جوړيږي؟ وجه يې بيان کړه!

۲۱۲- که فعل متعدي وي په يو مفعول که په دوه مفعول دی؟

۲۱۳- که متعدي په دوه مفعول وي اکتفاء په يوه جائز ده که نه؟

۲۱۴- که اکتفاء په يوه نه وي جائز هغه افعال په دوه قسمه دي (۱) افعال قلوب (۲) افعال تصيير، تعداد او عمل يې بيان کړه!

۲۱۵- هغه افعال چې متعدي به سه مفعول وي تعداد او عمل يې بيان کړه!

۲۱۶- د فعل دوهم قسم (قاصر) په دوه قسمه دی (۱) افعال ناقصه (۲) افعال مقاربه، افعال ناقصه وباسه!

۲۱۷- افعال ناقصه دوويش ۲۲ دي اصل او ملحقات يې معلوم کړه!

۲۱۸- عمل يې بيان کړه! د اسم او خبر تعين يې وکړه!

۲۱۹- په اعتبار د عمل سره په درې قسمه دي بيان يې کړه!

۲۲۰- فعل قاصر دوهم قسم افعال مقاربه وباسه!

۲۲۱- افعال مقاربه کل ديارلس دي: په اعتبار د معنى سره په درې قسمه دي: معنى او تعداد يې بيان کړه!

۲۲۲- د افعال مقاربه عمل بيان کړه! د اسم و خبر تعين يې وکړه

۲۲۳- د افعال ناقصه او د افعال مقاربه څه فرق دی؟

۲۲۴- هغه افعال مقاربه چې په خبر يې اَنْ داخلول واجب دي دوه دي: دلته سته؟

۲۲۵- چې خبر يې د اَنْ څخه خالي کول واجب وي هغه أوو ۷ دي دلته سته؟

۲۲۶- چې په خبر يې اَنْ داخلول او نه داخلول برابر وي هغه څلور دي، دلته سته؟

۲۲۷- د افعال مقاربه د خبر لپاره درې شرائط دي بيان يې کړه!

۲۲۸- هغه فعل چې وضع سوی وي د اخبار او انشاء لپاره ختم شو. هغه چې صرف د انشاء لپاره وضع شوی وي په دوه قسمه دی: (۱) افعال مدح وذم (۲) افعال تعجب. اول قسم افعال مدح و ذم وباسه!

۲۲۹- د مدح که د ذم لپاره دی؟

۲۳۰- فاعل او مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم يې معلوم کړه!

۲۳۱- د نعم، بئس او سآء د فاعل لپاره څلور شرائط دي بيان يې کړه!

۲۳۳- دوهم قسم فعل تعجب وباسه!

۲۳۴- د فعل تعجب لپاره اته شرائط دي بيان يې کړه!

۱۳۵- څه عمل کوي؟

۲۳۶- د فعل تعجب په ترکيب کې درې مذهبه دي اختلاف يې بيان کړه او ترکيب يې وکړه!

۲۳۷- اسماء عامله کل يولس ۱۱ دي اول قسم اسماء شرطيه وباسه!

۲۳۸- اسماء شرطيه د معنی په اعتبار سره په څلور قسمه دي: (۱) چې د ظرف د معنی څخه خالي وي هغه درې دي (۲) چې د زمان په معنی وي هغه دوه دي (۳) چې د مکان په معنی وي هغه درې دي (۴) چې د مذکوره اقسامو په منځ کې متردد وي هغه يو دی. دا کوم قسم دی؟

۲۳۹- د اسماء عامله دوهم قسم (اسماء افعال چې په معنی د فعل ماضي سره وي) بيان کړه!

۲۴۰- څه عمل کوي؟

۲۴۱- د اسماء عامله دريم قسم (اسماء افعال چې په معنی د امر وي) بيان کړه!

۲۴۲- تعداد او عمل يې بيان کړه!

۲۴۳- د اسماء عامله څلورم قسم (اسم فاعل) وباسه!

۲۴۴- عمل او د عمل لپاره يې درې شرائط بيان کړه!

۲۴۵- د اسماء عامله پنځم قسم (اسم مفعول) وباسه!

۲۴۶- شرائط او عمل يې بيان کړه!

۲۴۷- د اسماء عامله شپږم قسم (صفت مشبه) وباسه!

۲۴۸- عمل او د عمل لپاره يې شرائط بيان کړه!

۲۴۹- د اسماء عامله وهم قسم (اسم تفضيل) وباسه!

۲۵۰- اسم تفضيل څه عمل کوي؟

۲۵۱- اسم تفضيل په درو طريقو سره استعماليږي دلته کومه يوه ده؟

۲۵۲- د اسماء عامله اتم قسم (مصدر) وباسه!

۲۵۳- عمل او شرائط يې بيان کړه!

۲۵۴- د مصدر د نو اقسامو څخه دا کوم قسم دی؟

۲۵۵- د اسماء عامله نهم قسم (اسم مضاف) وباسه!

۲۵۶- د اسماء عامله لسم قسم(اسم تام) وباسه!

۲۵۷- د شپږو شيانو څخه په کوم شي تام شوی دی؟

۲۵۸- د اسماء عامله يولسم قسم (کنايه از عدد) وباسه!

۲۵۹- عامل لفظي ختم شو عامل معنوي وباسه!

۲۶۰- ابتداء ده که خلو؟

۲۶۱- په خاتمه کې درې فصله دي: (۱) توابع (۲) انصراف او عدم انصراف (۳) حروف غیر عامله. توابع په پنځه قسمه دي اول قسم صفت وباسه!

۲۶۲- صفت بحاله که صفت بحال متعلقه دی؟

۲۶۳- که هر یو وي په څو شیانو کې موافقت غواړي؟

2۶۴- صفت بحال متعلقه د څلورو شیانو په صورت کې راځي دا کوم یو دی؟

2۶۵- صفت په اعتبار د ذات سره په درې قسمه دی: (۱) مفرد (۲) جمله (۳) شبه جمله، دا کوم قسم دی؟

۲۶۶- صفت که مفرد وي د مفرد لپاره دوه شرطه دي: (۱) مشتق به وي (۲) یا به مؤول بالمشتق وي د مشتق څخه څلور شیان مراد دي د مؤول بالمشتق څخه لس شیان مراد دي، دا شرائط پکښي موجود دي؟

۲۶۷- که صفت جمله وي د جملې لپاره درې شرائط دي بیان یې کړه!

۲۶۸- که صفت شبه جمله وي د شبه جملې څخه څه مراد دي؟ او شرائط یې بیان کړه!

۲۶۹- صفت په اعتبار د افادې سره په اته قسمه دی دا کوم قسم دی؟

۲۷۰- صفت په اعتبار د موافقت اعراب د موصوف سره په درې قسمه دی، دا کوم قسم دی؟

۲۷۱- بعضې اسمونه موصوف او صفت دواړه جوړیږي، بعضې صرف موصوف، بعضې صرف صفت، بعضې نه موصوف او نه صفت جوړیږي، د هر یوه تعداد بیان کړه!

۲۷۲- کله – کله د موصف او صفت په منځ کې په یوه د اتو شیانو سره فاصله راځي دلته سته؟ که وي کوم شی دی؟

۲۷۳- کله – کله صفت د موصوف څخه منقطع شي د دریو فائدو لپاره (۱) مدح (۲) ذم (۳) ترحم په دا جمله کې سته؟

۲۷۴- د توابع دوهم قسم (تاکید) وباسه!

۲۷۵- تاکید لفظي دی که معنوي دی؟

۲۷۶- که معنوي وي نهه ۹ الفاظو څخه کوم یو دی؟

۲۷۷- تاکید د اسم، که د فعل، که د حرف او که د جملې دی؟

۲۷۸- د توابع دریم قسم (بدل) وباسه!

۲۷۹- د بدل د شپږو اقسامو څخه کوم قسم دی؟

۲۸۰- د توابع څلورم قسم (عطف بالحرف) وباسه!

۲۸۱- د لسو ۱۰ حروفو عاطفو څخه کوم یو راغلی دی؟

۲۸۲- د معطوف او معطوف علیه د نهه ۹ علاماتو څخه د لته کوم یوه سته؟ او ټولې علامې یې بیان کړه!

۲۸۳- عطف د جملې اسمیې او فعلیې یو په بل جائز دی. عطف د خبریې په انشائیې نا جائز دی. عطف د مفرد په جملې یا برعکس جائز دی چې یو شرط پکښې موجود وي بیان یې کړه!

۲۸۴- د توابع پنځم قسم (عطف بیان) وباسه!

۲۸۵- د عطف بیان لپاره څه شرط دی!

۲۸۶- د عطف بیان د پیژندلو لپاره پنځه طریقې دي بیان یې کړه!

۲۸۷- دا د خاتمې اول فصل و. دوهم فصل انصراف او عدم انصراف هم په تفصيل سره بيان شوی دی.

د خاتمې دريم فصل اوس شروع کيږي دريم فصل کې حروف غير عامله دي، حروف غير عامله په شپاړلس قسمه دي، اول قسم حروف تنبيه دي، دا څلور دي (۱) أَلَا (۲) أَمَا (۳) هَا (۴) يَا. په جمله کې يې تعين وکړه!

۲۸۸- که ألا وي: ألا په پنځه قسمه ده، دا کوم قسم ده؟

۲۸۹- که د پنځو اقسامو څخه هر يو وي په څه شي داخليږي؟ څه فائده يې ده؟

۲۹۰- که (أما) وي: هغه په څلور قسمه ده (۱) تنبيهيه (۲) عرضيه (۳) بمعنی حقاً (۴) مرکبه په دا جمله کې دا کوم قسم ده؟

۲۹۱- که هر يو وي په څه شي داخليږي؟ او څه فائده ورکوي؟

۲۹۲- كه (ها) وي: ها كله – كله په جمله اسميه داخليږي كله – كله په مفرد دا خليږي د مفرد څخه څلور ځايه مراد دي دا كوم ځاى دى؟

۲۹۳- كه (يا) وي: هغه په رُبَّ يا په لَيْتَ دا خليږي دا كوم ځاى دى؟

۲۹۴- د حروف غير عامله دريم قسم (حروف ايجاب) وباسه!

۲۹۵- حروف ايجاب شپږ دي (۱) نَعَمْ (۲) بَلى (۳) أَجَلْ (۴) اِيْ (۵) جَيْرَ (۶) اِنْ په دا جمله كې يې وباسه!

۲۹۶- كه هر يو يې څه معنى وركوي؟

۲۹۷- د حروف غير عامله دريم قسم (حروف تفسير) وباسه!

۲۹۸- حروف تفسير دوه دي: (۱) أيْ (۲) أَنْ دا كوم قسم دى؟

۲۹۹- كوم د جملې او كوم د مفرد تفسير كوي؟

۳۰۰- كه اَنْ تفسيريه وي درې شرائط يې بيان كړه! څه علامه يې ده؟

۳۰۱- د حروف غير عامله څلورم قسم (حروف مصدريه) وباسه!

۳۰۲- حروف مصدريه کل شپږ دي: (۱) مَا (۲) اَنْ (۳) لَوْ (۴)اَنَّ (۵) كَيْ (۶) همزه تسويه. دا کوم يو دی؟

۳۰۳- که په دا جمله کې هر يو وي د هغه مدخول او فائده بيان کړه!

۳۰۴- که همزه تسويه وي، د پنځو شيانو وروسته راځي، دا کوم ځای دی؟

۳۰۵- د حروف غير عامله پنځم قسم (حروف تحضيض) وباسه!

۳۰۶- حروف تحضيض کل څلور دي (۱) أَلَّا (۲) هَلَّا (۳) لَوْلَا (۴) لَوْمَا. دا کوم قسم دی؟

۳۰۷- که الَّا وي هغه په پنځه قسمه ده (۱) توبيخيه (۲) تحضيضيه (۳) عرضيه (۴) مرکبه نبمر۱ (۵) مرکبه نبمر۲ دا کوم قسم دی؟

۳۰۸- که لولا وي لولا په درې قسمه ده (۱) امتناعيه (۲) تحضيضيه (۳) تنديميه. دا کوم قسم ده؟

۳۰۹- كه د لولا هر قسم وي شرائط يې بيان كړه!
۳۱۰- د حروف غير عامله شپږم قسم (حرف توقع) وباسه!
۳۱۱- د توقع لپاره صرف (قد) راځي دا په دوه قسمه دی: (۱) قد اسمي (۲) قد حرفي. دا كوم قسم دی؟
۳۱۲- كه (قد) اسمي وي هغه بيا په دو معنی وو سره راځي (۱) په معنی د (حَسْبُ) (۲) په معنی د (اسم فعل) دا كوم قسم دی؟
۳۱۳- كه (قَدْ) حرفي وي هغه په پنځه قسمه دی: (۱) تحقيق (۲) تقريب الماضي الي الحال (۳) توقع (۴) تقليل (۵) تكثير دا كوم قسم دی؟
۳۱۴- د حروف غير عامله وهم قسم (حروف استفهام) وباسه!
۳۱۵- حروف استفهام درې دي (۱) مَا (۲) همزه (۳) هل، كوم يو په اصل استفهام كې استعماليږي؟
۳۱۶- كوم يو د تصور كوم يو د تصديق لپاره راځي؟

۳۱۷- د حروف غير عامله اتم قسم (حروف ردع) وباسه!

۳۱۸- حرف ردع صرف يو (كَلَّا) دی كله په معنی د حقًّا او كله په معنی د ردع وي دلته په كومه معنی سره ده؟ او څه علامه يې ده؟

۳۱۹- كَلَّا په څلورو طريقو سره استعماليږي. دلته په كومه طريقه ده؟

۳۲۰- د حروف غير عامله نهم قسم(تنوين) وباسه!

۳۲۱- تنوين په پنځه قسمه دی (۱) ترنم (۲) تمكن (۳) تقابل (۴) عوض (۵) تنكير. دا تنوين كوم قسم دی؟

۳۲۲- كه هر يو يې مدخول يې بيان كړه!

۳۲۳- د حروف غير عامله لسم قسم (نون تاكيد) وباسه!

۳۲۴- خفيفه دی كه ثقيله؟

۳۲۵- د حروف غير عامله يو لسم قسم (حروف زيادت) وباسه!

٣٢٦- حروف زيادت کل اته دي (١) اِنْ (٢) اَنْ (٣) مَا (۴) لَا (۵) مِنْ (۶) کاف (٧) باء (٨) لام. دلته کوم قسم دی؟

٣٢٧- که (اَنْ) زايده وي اَنْ په دري ځايه کې زائد کيږي. دا کوم ځای دی؟

٣٢٨- که (اِنْ) زايده وي، اِنْ په څلور ځايه کې زائد کيږي. دا کوم ځای دی.؟

٣٢٩- که (لا) زايده وي، لا په اته ځايه کې زايد کيږي دا کوم ځای دی؟

٣٣٠- که (ما) زايده وي ما په دوه قسمه ده: (١) غير کافه (٢) کافه دا کوم يو دی؟

٣٣١- که ما زايده غير کافه وي دا په کومو ځايو کې زايد کيږي؟

٣٣٢- که ما زائده کافه وي، دا بيا په درې قسمه ده کومه يوه ده؟

٣٣٣- د حروف غير عامله دولسم قسم (حروف شرطيه) وباسه!

۳۳۴- حروف شرطيه دوه دي (۱) أَمَّا (۲) لَوْ. دا كوم يو دى؟
۳۳۵- كه أَمَّا وي أَمَّا په درو معناو سره راځي، دا په كومه معنى ده؟
۳۳۶- د أما او فاء جزائيه په منځ كې په لسو شيانو سره فاصله راځي، دلته په كوم شي سره فاصله راغلي ده؟
۳۳۷- كه حرف شرط (لو) وي. لَوْ امتناعيه او كه لَوْ غير امتناعيه ده؟
۳۳۸- د (لَوْ) ټول پنځه اقسام دي بيان يې كړه!
۳۳۹- د حروف غير عامله ديار لسم قسم (لولا امتناعيه) وباسه!
۳۴۰- د حروف غير عامله څوارلسم قسم (لام مفتوحه) وباسه!
۳۴۱- د لام مفتوحه د وو ۷ اقسامو څخه كوم قسم دى؟
۳۴۲- د حروف غير عامله پنځلسم قسم (ما مصدريه) وباسه!

۳۴۳- د حروف غیر عامله شپاړسم قسم (حروف عاطفه) وباسه!

۳۴۴- حروف عاطفه ټول لس دي: (۱)واو (۲) فاء (۳) ثم (۴) حتی (۵) اِما (۶) او (۷)اَمْ (۸) لا (۹) بَل (۱۰) لكن. دا كوم يو دی؟

۳۴۵- كه اَمْ وي ام متصله او كه ام منقطعه؟

۳۴۶- كه ام متصله وي د ام متصله لپاره دوه شرطه دي بيان يې كړه!

۳۴۷- ام متصله په دوه قسمه ده، دا كوم يو دی؟

۳۴۸- كه ام منقطعه وي، دا په درې قسمه ده، دا كوم يو دی؟

۳۴۹- كه (لا) عاطفه وي څه شرط يې دی؟

۳۵۰- كه (بل) وي، بل په دوه قسمه دی: (۱) عاطفه (۲) اضرابيه، دا كوم قسم دی؟ كه هر يو وي څه علامه يې ده؟

۳۵۱- مستثنی وباسه!

۳۵۲- متصله كه منقطعه ده؟

۳۵۳- مستثنی د اعراب په اعتبار سره په څلور قسمه ده: (۱) نصب ويل واجب (۲) نصب او د ماقبل څخه بدل دواړه جائز (۳) د عامل مطابق اعراب ويل واجب (۴) جر ويل واجب دا کوم قسم دی؟

۳۵۴- که نصب ويل واجب وي، دا بيا څلور صورتو نه دي (۱) د اول صورت لپاره درې شرطونه دي(۲) دوهم صورت لپاره هم درې شرطونه دي (۳) د دريم صورت لپاره دوه شرطه دي (۴) د څلورم صورت لپاره يو شرط دی، دا کوم يو دی؟

۳۵۵- که نصب او د ماقبل څخه بدل دواړه جائز وي، ددې لپاره پنځه شر طونه دي بيان يې کړه!

۳۵۶- که د عامل مطابق اعراب ويل واجب وي! ددې لپاره درې شرائط دي، بيان يې کړه!

۳۵۷- که مستثنی مجرور ويل واجب وي: د هغه لپاره يو شرط دی بيان يې کړه!

د تفصلي اجراء حل شوی مثال:

﴿وَفِي الْاَرْضِ ايتٌ لِلْمُوْقِنِيْنِ ٢٠ وَفِيْ اَنْفُسِكُمْ اَفَلَا تُبْصِرُوْن﴾ [٢١ سورة الذاريات]

استاذ: په دا جمله کې مرکب مفيد وباسه!

شاګرد: (و في الارض ايت للموقنين وفي انفسكم) مرکب مفيد دی

استاذ: جمله ده که کلام؟ د جملې او کلام فرق بيان کړه!

شاګرد: دا جمله او کلام دواړه دي؛ کلام درې قيده غواړي په دې کې درې قيده سته، جمله دوه قيده غواړي چې کلام سو جمله خوبه خامخا وي،

د کلام قيود: (١) لفظ به وي (٢) مفيد به وي (٣) نسبت مقصودي به وي، نسبت مقصودي دا مطلب: چې د دوهم اسناد لپاره به وسيله او ذريعه نه وي، په دا جمله کې صرف اول دوه قيده شرط دي.

استاذ: جمله په اعتبار د مفهوم سره په دوه قسمه ده (١) خبريه (٢) انشائيه. دا کوم قسم ده؟

شاګرد: جمله خبريه ده.

استاذ: جمله په اعتبار د ذات سره په څلور قسمه ده (۱) اسميه (۲) فعليه (۳) ظرفيه (۴) شرطيه. دا کوم قسم ده؟

شاګرد: جمله اسميه ده.

استاذ: د جملې اسميې علامه وباسه!

شاګرد: خاصه علامات (۲۲) دي دلته پنځلسمه علامه ده.

استاذ: د مبتداء او خبر تعين يې وکړه!

شاګرد: (ايت) مبتداء ده (وفي الارض وفي انفسكم) خبر دی.

استاذ: مبتداء معرفه ده که نکره؟ که نکره وي تخصيص يې په څه شي حاصل کړی دی؟

شاګرد: مبتداء چې نکره وي په اتلسو شيانو سره تخصيص حاصلوي دلته دريم ځای دی، په تقديم د خبر سره يې تخصيص حاصل کړی.

استاذ: مبتداء او خبر په پنځو شيانو کې موافقت غواړي، که وه ۷ شرطونه موجود وه. دلته موافقت سته؟

شاګرد: جار مجرور مبتداء موافق را وځي بيا خبر جوړيږي، موافقت سته.

استاذ: جمله په اعتبار د صفت سره په لس قسمه ده (۱) استنافيه او .... دا کوم قسم ده؟

شاګرد: اول قسم استنافيه ده.

استاذ: جمله په اعتبار د شکل او هيئت سره په دوه قسمه ده(۱) صغری (۲) کبری او دا کوم قسم دی؟

شاګرد: کبری ده.

استاذ: جمله په اعتبار د اعراب سره په دوه قسمه ده (۱) چې محل د اعراب لري هغه (۱۵) دي (۲) چې محل د اعراب نه لري هغه (۱۲) دي دا کوم يو قسم ده؟

شاګرد: جمله استنافيه ده محل د اعراب نه لري په دولسو ځايو کې دوهم ځای دی.

استاذ: (اَفَلَا تُبْصِرُوْن) څخه مخکې يو فايده پيژندل ضروري ده:

فايده: کله – کله د همزه استفهام او د فعل په منځ کې (واو) يا (فا) راځي ، په دا (واو) او (فا) کې اختلاف دی:

۱- بعض حضرات وايې دا (واو) او (فاء) د عطف لپاره دي ددې مذکوري جملې مخکې مقدره جمله راوځي مثال: أَغَفَلْتُمْ فَلَا تُبْصِرُوْنَ دا مذكوره جمله په مقدره عطف ده همزه په اصل کې په مقدري جملې داخله ده دا مذهب د هغه چا دی چې عطف د خبر په انشاء جائز بولي.

۲- بعض حضرات وايې دا (واو) او (فا) د استناف لپاره دي، د ماقبل سره هيڅ تعلق نه لري همزه د صدارت د کلام تقاضا کوي په دا وجه په ادات عطف مقدمه سوه. دا مذهب د هغه چا دی چې عطف د خبر په انشائيه جائز نه بولي

دا مرکب مفيد دی او که غیر مفید دی؟

شاګرد: مرکب مفید دی.

استاذ: جمله ده که کلام؟

شاګرد: هم جمله ده هم کلام.

استاذ: په اعتبار د مفهوم سره کومه جمله ده؟

شاګرد: بناء پر اول مذهب خبريه او بناء پر دوهم مذهب انشائيه ده.

استاذ: که خبريه وي او که انشائيه! په اعتبار د ذات سره کومه جمله ده؟

شاګرد: جمله فعليه ده.

استاذ: د جملې فعلې اجزاء اصلي او زايد بيان کړه!

شاګرد: (تبصرون) فعل مضارع او (واو) فاعل دی.

استاذ: بناء پر دوهم مذهب انشاء طلبي که غير طلبي ده؟

شاګرد: انشاء طلبي ده، د طلبي د شپږو قسمو څخه دريم قسم استفهام دی.

استاذ: په اعتبار د صفت سره کوم جمله ده؟

شاګرد: بناء پر اول مذهب معطوفه او بناء پر دوهم مذهب استنافيه ده.

استاذ: په اعتبار د شکل او هيئت سره کومه جمله ده؟

شاګرد: کبری ده.

استاذ: په اعتبار د اعراب سره کومه جمله ده؟

شاگرد: جمله استنافيه يا په جمله استنافيه عطف ده، په دواړه صورته محل د اعراب نه لري.

د حال تفصلي اجراء:

﴿وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْواً اِنَّهُمْ جُنْدٌ مُغْرَقُوْنَ﴾ [٢٤ سورة الدخان.]

استاذ: په دا جمله کې حال وباسه!

شاگرد: (رَهْواً) حال دی.

استاذ: مفرد دی که جمله؟

شاگرد: مفرد دی.

استاذ: حال په اعتبار د بيان او توکيد سره په دوه قسمه دی او دا کوم يو دی؟

شاگرد: حال مبينه دی.

استاذ: حال په اعتبار د انتقال او وصف لزوم سره په څلور قسمه دی او دا کوم يو دی؟

شاگرد: حال منتقله دی.

استاذ: حال په اعتبار د ذوالحال سره هم په څلور قسمه دی دا کوم قسم دی؟

شاګرد: حال حقيقيه دی.

استاذ: حال په اعتبار د قصد ذات سره په دوه قسمه دی او دا کوم يو دی؟

شاګرد: حال مقصوده دی.

استاذ: حال په اعتبار د زمانې سره په دوه قسمه دی او دا کوم يو دی؟

شاګرد: مقدره دی.

يادونه:

دا اجراء د هغه چا لپاره ده چې نحوه يې څه نا څه زده وي او که يې په نحوه کې زيات مهارت درلودی هغه ته بايد په لاندي طريقه سره اجراء وشي.

استاذ: په دا جمله کې حال وباسه!

شاګرد: رهوا حال دی.

استاذ: حال هغه ته ويل کيږي چې د ذوالحال هيئت بيانوي، ذوالحال فاعل وي که مفعول وي، که دواړه وي، حقيقتاً وي، که حکماً وي. په دا جمله کې ذوالحال څه شی دی؟ او د حکماً څخه څه مراد دی؟

شاګرد: ذوالحال حقيقتاً مفعول دی (البحر) د حکماً څخه نهه شيان مراد دي (۱) نائب فاعل (۲) مبتداء او....

استاذ: د حال وه ۷ علامات دي د لته کومه علامه ده؟

شاګرد: پنځمه علامه ده چې مصدر راشي مفعول مطلق او مفعول له نه وي په تاويل د مشتق حال جوړيږي، رَهْواً په تاويل د راهواً سره حال دی.

استاذ: ذوالحال معرفه ده که نکره؟ که نکره وي تخصيص يې په څه شي سره حاصل کړی؟ (تخصيص په أوو ۷ شيانو سره حاصليږي)

شاګرد: ذوالحال معرفه دی (البحر)

استاذ: د حال د جوړولو لپاره درې شرائط دي (۱) حال به نکره وي که معرفه وي د نکرې په تاويل به يې کوي (۲) د حال معنی به د ذوالحال د ذات څخه وي (۳) حال به مشتق وي. دلته يې شرائط موجود دي؟

شاګرد: دلته مشتق نه دی په تاويل د مشتق سره دی؟

استاذ: واو حاليه په څلور ځايه کې راوړل واجب، په شپږ ځايه کې راوړل ممتنع دی. او دا کوم ځای دی؟

شاګرد: هغه خو چې جمله حاليه واقع شوي وي دا خو مفرد حال واقع شوی دی، دلته واو حاليه نه غواړي.

استاذ: شاباس! په حال کې عامل (فعل) يا (شبه فعل) يا (معنی د فعل) وي. دلته څه شی دی؟ د معنی فعل څخه څه مراد دي؟

شاګرد: دلته فعل دی د معنی فعل څخه نهه شيان مراد دي (۱) اسم فعل او....

استاذ: حال په اعتبار د بيان او توکيد سره کوم قسم دی؟

شاګرد: مبينه دی.

استاذ: په اعتبار د انتقال وصف لزوم سره کوم قسم دی؟

شاګرد: منتقله دی.

استاذ: په اعتبار د ذوالحال سره کوم قسم دی؟

شاګرد: حقيقيه دی.

استاذ: په اعتبار د قصد ذات سره کوم قسم دی؟

شاګرد: مقصوده دی.

استاذ: په اعتبار د زماني سره کوم قسم دی؟

شاګرد: مقدره دی.

فايده:

كه (اترک) فعل د افعال تصييرڅخه شي: نو بيا (رهواً) مفعول ثاني جوړيږي.

افعال تصيير ټول اوه ۷ دي (۱) صَيَّر (۲) رَدَّ (۳) تَرَکَ او ....

فايده:

په عربي لغت کښي چې څلور الفاظ منون بالفتح راشي نو حال جوړيږي مثال: (۱) كُلًّا (۲) جَمِيْعًا (۳) سَوِيًّا (۴) مَعًا. مثال: ذَكَرْنَا كُلاًّ، نَجَيْنَا جَمِيْعًا، حَمِدْنَا اللهَ سَوِيًّا، تَعَاهَدْنَا عَلى الصَّدَقَةِ مَعًا.

د موصوف او صفت تفصلي اجراء:

﴿وَقَالُوْا لَوْ لَا نُزِّلَ هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ﴾ [سورة الزخرف: ٣١]

استاذ: په دې ايات کې د توابع اول قسم (صفت) وباسه!

شاګرد: عظيم صفت دى د (رجل) لپاره.

استاذ: په اعتبار د مفهوم سره کوم قسم دى؟

شاګرد: صفت بحاله دى.

استاذ: صفت بحاله په څو شيانو کې موافقت غواړي؟

شاګرد: په لسو شيانو کې موافقت غواړي، په يو وخت کې څلور ضروري دي.

استاذ: په دا موصوف او صفت کې يې بيان کړه!

شاګرد: دواړه (نکره)، (مجرور)، (مذکر) او (واحد) دي.

استاذ: صفت په اعتبار د ذات سره په درې قسمه دى (١) مفرد (٢) جمله (٣) شبه جمله. دا کوم قسم دى؟

شاګرد: مفرد دى.

استاذ: د مفرد لپاره دوه شرطونه دي (۱) مشتق به وي (۲) یا به مؤول بالمشتق وي، د مشتق څخه څلور شیان مراد دي. د مؤول بالمشتق څخه لس شیان مراد دي دلته کوم قسم دی؟

شاګرد: مشتق دی، د څلورو شیانو څخه صفت مشبه دی.

استاذ: صفت په اعتبار د افادې سره په اته قسمه دی: (۱) مخصصه او.... دا کوم قسم دی؟

شاګرد: دا صفت (مخصصه)، (موضحه) او (مبینه) دي.

استاذ: صفت په اعتبار د موافقت د اعراب د موصوف سره په څو قسمه دی؟

شاګرد: په درې قسمه دی (۱) صفت د موصف صرف د لفظ تابع وي (۲) صرف د موصوف د محل تابع وي (۳) د لفظ او محل دواړو تابع وي.

استاذ: د لته کوم قسم دی؟

شاګرد: اول قسم صرف د لفظ تابع دی.

استاذ: د موصوف او صفت په منځ کې کله – کله په يو د اتو شيانو سره فاصله راځي. دلته سته؟

شاګرد: دلته د اتو ځايو څخه پنځم ځای دی. په صفت په معمول (من القريتين) سره فاصله راغلې ده.

استاذ: اسماء په اعتبار د توصيف سره بيان کړه!

شاګرد: اسماء په اعتبار د توصيف سره په څلور قسمه دي (۱) (اسماء اشارات) موصوف او صفت دواړه جوړيږي (۲) (اَیٌّ) صفتيه کماليه صرف صفت واقع کيږي. (۳) (اعلام) صرف موصوف واقع کيږي. څلورم (ضمائر) نه موصوف او نه صفت جوړيږي.

د حروف غير عامله اجراء:

﴿اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْماً نَكَثُوْا اَيْمَانَهُمْ... ﴾[۱۳ سورة التوبة]

استاذ: په دې ايات کې حروف غير عامله وباسه!

شاګرد: (الا) حرف غير عامل دی.

استاذ: حروف غیر عامله څو دي؟ او دا يې کوم قسم دی؟

شاګرد: حروف غیر عامله په شپاړس قسمه دي، دا يې اول قسم حرف تنبیه دی.

استاذ: حروف تنبیه په لغت او اصطلاح کې څه ته وايې؟

شاګرد: په لغت کې بیدار کولو ته ویل کیږي، په اصطلاح کې هر هغه حرف ته ویل کیږي چې دده په ذریعه مخاطب بیداره کړل شي چې د کلام یو حصه ځیني پاته نه شي.

استاذ: حروف تنبیه ټول څو دي؟

شاګرد: څلور دي (۱) ألا (۲) أَمَا (۳) هَا (۴) يَا.

استاذ: (الا) په څو قسمه ده؟

شاګرد: (الا) په پنځه قسمه ده: (۱) ألا استفتاحيه منبهه (۲) ألا تحضيضيه (۳) ألاعرضيه (۴) ألا مرکبه من همزة استفهام ولای نفي جنس (۵) ألا حرف توبيخ و انکار.

استاذ: په دې ايات کې خو ألا استفتاحيه منبهه ده! دا په څه شي دا خليږي؟

شاګرد: دا په جمله اسميه او فعليه دواړو داخليږي، د مابعد پر ثبوت او تحقق دلالت کوي، په مفرد هيڅ کله هم نه داخليږي، اکثره په حرف نداء داخليږي مثال: أَلَا يَا قَوْمُ اسْجُدُوْ.

استاذ: بل حرف غير عامله وباسه!

شاګرد: په (قَوْماً) کې تنوين دی.

استاذ: تنوين په څو قسمه دی؟

شاګرد: تنوين په پنځه قسمه دی (۱) ترنم (۲) تمکن (۳) تقابل (۴) عوض (۵) تنکير.

استاذ: دا کوم قسم دی؟

شاګرد: تنوين تمکن دی.

د اسماء عامله اجراء:

﴿وَمَا كَانَ اِسْتِغْفَارُ اِبْرَاهِيْمَ لِاَبِيْهِ٠٠٠﴾ آيه

استاذ: په دې ايات کې اسماء عامله وباسه!

شاګرد: (استغفار) اسم عامل دی.

استاذ: اسماء عامله څو دي؟ دا يې کوم قسم دی؟

شاګرد: اسماء عامله يولس دي. دا يې اتم قسم مصدر دی.

استاذ: د مصدر تعريف وکړه!

شاګرد: مصدر هغه اسم دی چې د فعل لپاره مأخذ او مشتق منه وي او صرف په حدوث دلالت کوي.

استاذ: د مصدر د عمل کولو لپاره څو شرائط دي؟ بيان يې کړه!

شاګرد: شپږ (۶) شرائط دي: (۱) مفعول مطلق به نه وي (۲) مصغر به نه وي (۳) ضمير به نه وي (۴) په آخر کې به يې تای وحدت نه وي (۵) فاصله به نه وي (۶) تثنيه او جمع به نه وي.

استاذ: مصدر څه عمل کوي؟

شاگرد: د خپل فعل والا عمل كوي: كه يې فعل متعدي وي د متعدي عمل كوي كه يې فعل لازمي وي د لازمي عمل كوي.

فرق يې دادى: د فعل فاعل نه حذف كيږي د مصدر دا حذف كيږي او په فعل كې ضمير مستتر كيږي په مصدر كې نه مستتر كيږي.

استاذ: د عمل لپاره يې څو صورته دي؟

شاگرد: درې صورته دي: (١) چې مضاف وي عمل كوي (٢) چې منون وي هم عمل كوي (٣) چې معرف بالام وي هم عمل كوي قليل الاستعمال.

چې مضاف وي بيا په هغه كې څلور صورته دي (١) مصدر فاعل ته مضاف وي مفعول به ذكر وي (٢) مصدر فاعل ته مضاف وي مفعول به ذكر نه وي (٣) مصدر مفعول به ته مضاف وي فاعل ذكر وي (۴) مصدر مفعول به ته مضاف وي فاعل ذكر نه وي.

استاذ: دا كوم صورت دى؟

شاګرد: دا په اول صورت کې دوهم صورت دی فاعل (ابراهيم) ته مضاف دی مفعول به (رَبَّهُ) محذوف دی.

استاذ: مصدر په څو قسمه دی؟

شاګرد: په نهه قسمه دی (١) مصدر اصلي (٢) مصدر ممي او ....

استاذ: دا کوم قسم دی؟

شاګرد: دا مصدر اصلي دی.

استاذ: د مصدر اصلي تعريف وکړه!

شاګرد: مصدر اصلي هغه مصدر ته ويل کيږي چې په معنی مصدري دلالت کوي او فعل دده څخه مشتق کيږي.

د مذکر او مؤنث اجراء:

﴿وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَ هُوَ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ﴾ [(٣٥) سورة الكهف]

استاذ: د اسم دريم تقسيم په اعتبار د جنس سره په دوه قسمه دی مذکر او مؤنث. په دا ايات کې مذکر و باسه!

شاګرد: په (دَخَلَ) کې (هو) ضمير په (جَنَّتَهُ) کې (هو) ضمير په (وهو ظالم) کې (هو) ضمير او په (لنفسه) کې (هو) ضمير د مذکر لپاره دي او (ظالم) مذکر دی

استاذ: مؤنث وباسه او د مؤنث تعريف وکړه!

شاګرد: (جَنَّةَ) مؤنث دی او مؤنث هغه ته ويل کيږي چې د تانيث علامه پکښي وي.

استاذ: د تانيث علامې څو دي؟ دا يې کومه يوه ده؟

شاګرد: څلور دي (۱) تای ملفوظه (۲) تای مقدره (۳) الف مقصوره (۴) الف ممدوده. دا تای ملفوظه ده.

استاذ: تای ملفوظه په څو قسمه ده؟ دا يې څووم قسمه ده؟

شاګرد: تای ملفوظه په نهه قسمه ده دا يې اول قسم تای تانيث ده.

استاذ: مؤنث سماعي دی که قیاسي؟ که هر یو وي قسم یې بیان کړه!

شاګرد: مؤنث قیاسي دی، د قیاسي د درو اقسامو څخه تای ظاهره ده.

استاذ: مؤنث حقيقي ده که لفظي؟

شاګرد: مؤنث لفظي ده.

استاذ: بل مؤنث وباسه!

شاګرد: په (لنفسه) کې (نفس) مؤنث دی.

استاذ: مؤنث سماعي دی که قیاسي؟

شاګرد: سماعي دی.

استاذ: واجب التانیث که جائز التانیث دی؟ او تعداد یې بیان کړه!

شاګرد: واجب التانیث دی، دا شپږ نوي (۹۶) دي او دا یې نهه پنځوسم (۵۹) دی.

د حروف جاره اجراء:

﴿وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْظُرُ اِلَيْكَ﴾ [٤٣ يونس]

استاذ: عامل لفظي په درې قسمه دي (١) حروف عامله (٢) افعال عامله (٣) اسماء عامله. حروف عامله بيا په وه (٧) قسمه دي اول قسم حروف جاره وباسه!

شاګرد: (ومنهم) کې (مِنْ) حرف جر دی.

استاذ: څه عمل کوي؟ او ظرف لغوه ده که ظرف مستقر؟

شاګرد: خپل مدخول ته جر ورکوي. دلته ظرف مستقر دی.

استاذ: د ظرف مستقر د څلورو ځايو څخه کوم ځای دی؟

شاګرد: د مبتداء مؤخر لپاره خبر مقدم دی.

استاذ: په اعتبار د متعلق سره کوم قسم دی؟ تعداد يې بيان کړه!

شاګرد: حروف جاره په اعتبار د متعلق سره په درې قسمه دي او داېې دريم قسم دی. کله متعلق غواړي کله يې نه غواړي او دلته يې غواړي.
استاذ: په اعتبار د عمل سره کوم قسم دی؟
شاګرد: حروف جاره په اعتبار د عمل سره په اته قسمه دي، دا يې اول قسم دی په اسم ظاهر او اسم ضمير دواړو کې عمل کوي او دلته يې په ضمير کې عمل کړی.
استاذ: (مِنْ) په شپږ قسمه دی او دا يې کوم قسم دی؟
شاګرد: (مِنْ) تبعيضيه دی علامه يې داده دده وروسته مَنْ موصوله راغلی. په ترکيب کښې خبر مقدم او مبتداء مؤخر جوړيږي، که په معنی د (بعض) شي مبتداء مَنْ موصوله خبر جوړيږي.
استاذ: بل حرف جر وباسه! سره له پوره تفصيله!
شاګرد: په (اليک) کې (الی) ده، ظرف لغوه ده په اعتبار د متعلق سره اول قسم دی يعني همېشه متعلق غواړي، په اعتبار د عمل سره هم اول قسم دی يعني په اسم

ظاهر او ضمير دواړو کې عمل کوي، دلته يې په ضمير کې عمل کړی.

د اسم فعل اجراء:

﴿قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صَدِقِيْنَ﴾[(۶۴) النحل]

استاذ: د اسم غير متمكن څلورم قسم اسم فعل وباسه!

شاګرد: (هَاتُوْا) اسم فعل دی.

استاذ: د امر که د ماضي که د مضارع په معنی دی؟

شاګرد: د امر په معنی دی.

استاذ: چې په معنی د امر حاضر وي هغه څو دي؟ دا يې د څه شي په معنی دی؟

شاګرد: چې په معنی د امر حاضر وي هغه ۳۸ دي. دا په معنی د (خذوا) دی.

استاذ: مرتجل که منقول او که معدول دی؟

شاګرد: منقول دی.

استاذ: د څو شيانو څخه منقول کيږي؟ دا د څه شي څخه منقول دی؟

شاګرد: د څلورو شيانو څخه منقول کيږي (۱) ها تنبه (۲) جار مجرور (۳) ظرف (۴) مصدر. دا د ها تنبه څخه منقول دی.

استاذ: څه عمل کوي؟ د عمل تعين يې وکړه!

شاګرد: فاعل ته رفع مفعول ته نصب ورکوي، واو يې فاعل برهانکم يې مفعول دی.

د افعال قلوب اجراء:

﴿فَاِ مَّا نُرِيَنَّکَ بَعْضَ للَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَ فَيَنَّکَ فَاِلَيْنَا يُرْ جَعُوْنَ﴾

[(۷۷) غافر/ المؤمن]

استاذ: دوهم باب افعال عامله دي، په دې جمله کې افعال عامله و باسه!

شاګرد: (نُرِيَنَّکَ) فعل عامل دی.

استاذ: فعل تام که فعل قاصر دی؟

شاګرد: فعل تام دی.

استاذ: معلوم دی که مجهول؟

شاګرد: معلوم دی.

استاذ: متعدي دی که لازمي؟

شاګرد: متعدي دی.

استاذ: متعدي په څو مفعوله دی؟

شاګرد: متعدي په درې مفعوله دی.

استاذ: چې متعدي په درې مفعوله وي هغه کوم افعال دي؟

شاګرد: هغه ٧ افعال دي: (١) اَعْلَمَ (٢) أَرى . . . .

استاذ: د مفعولاتو تعين يې وکړه!

شاګرد: مفعول اول (اَلْعَذَابَ) يې حذف دی، مفعول ثاني يې (ك) ضمير دی، مفعول ثالث يې (بَعْضَ للَّذِيْ) دی.

استاذ: کوم مفعول يې حذف کول جائز ،کوم مفعول يې حذف کول نه دی جائز؟

شاګرد: مفعول اول يې حذف کول جائز دی، آخري دواړه په يوه وخت کې حذف کول هم جائز دی، په آخري دوو ٢ کې يو ١ حذف کول نه دی جائز : ځکه هغه دواړه مسند او مسنداليه دي په حقيقت کښي.

قاعده: د جملې د مضمون طريقه:

جملې ته به ګورو جمله اسميه ده که فعليه: که جمله اسميه وي بيا به ورته

ګورو خبر مشتقي دی کنه، که مشتقي و د خبر مصدر د مبتداء و طرف ته يې مضاف کړه: د زَيْدٌ قَائِمٌ څخه قِيْامُ زَيْدٍ. او که خبر مشتقي نه وو بيا د خبر په آخر کښي (ياء)

او (تاء) مصدري راوړه د مبتداء وطرف ته مضاف کړه د زَيْدٌ اَسَدٌ څخه اَسَدِيَّةُ زَيْدٍ.

که جمله فعليه وه بيا به ورته ګورو فاعل يې اسم ظاهر دی که اسم ضمير دی، که فاعل اسم ظاهر و، د فعل مصدر د فاعل و طرف ته مضاف کړه د ضَرَبَ زَيْدٌ څخه ضَرْبُ زَيْدٍ.

که فاعل اسم ضمير و بيا د فعل مصدر د ضمير طرف ته مضاف کړه د زَيْدٌ ضَرَبَ څخه ضَرْبُهُ د ضَرَبَا څخه ضَرْبُهُمَا.

قاعده: براى رسم خط الف في القران:

د فعل په شروع کې چې الف زائد راوړل کيږي د هغه وجه داده چې دا فعل تر

ماقبل فعل په وجود کې قوي او سخت دی مثلاً:لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا شَدِيْدًا اَوْ لَاَ اذْ بَحَنَّهُ.... [النمل ٢١] چې په (لَاَ اذْ بَحَنَّهُ) کې الف زائد راوړل شوی دا په دې دلالت کوي چې ذبح سخت او قوي ده تر هغه مخکې عذاب.
زِيْدَتِ الْاَلِفُ تَنْبِيْهًا عَلى اَنَّ الْمُوَخَّرَ اَشَدُّ فِي الْوُجُوْدِ مِنَ الْمُقَدَّمِ عَلَيْهِ اَعْنِيْ اَلذَّبْحُ اَشَدُّ مِنَ الْعَذَابِ.

قاعده: د فعل د مفرد صيغي په اخر کښي کله-کله الف راوړل کيږي د هغه وجه:

لکه: يَدْعُوْا او يَرْجُوْا

د مفرد فعل په آخر کې چې الف راوړل کيږي هغه په يوه معنى خارجي دلالت کوي معنى خارجي ثقل دی. يَكُوْنُ بِاِعْتِبَارِ مَعْنى خَارِجٍ عَنِ الْكَلِمَةِ يَحْصِلُ فِي الوُجُوْدِ لِزِيَادَتِهَا بَعْدَ الْوَاوِ فِيْ الْاَفْعَالِ نَحْوُ: يَرْجُوْا وَ يَدْعُوْا ، وَهُوَ مَعْنىً خَارِجٌ اَلثَّقْلُ.

د ثقل وضاحت:

دا فعل دی فعل تر اسم ثقیل دی په دا وجه د فعل سره فاعل ضروري دی نو

جمله سوه، اسم مفرد وي جمله تر مفرد ثقیله وي ، دوهم ثقل واو ثقیل دی تر

مده او لین، دریم ثقل ضمه تر باقي حرکاتو ثقیله ده په اصل کې يَرْجُوُ و، څلورم

ثقل متحرک ثقیل دی تر ساکن. نو په دا وجه یې په آخر کې الف راوړی چې په

دا ټول ثقل دلالت و کړي.

وَ ذلِکَ لِاَنَّ الْفِعْلَ اَثْقَلُ مِنَ الْاِسْمِ لِاَنَّهُ يَسْتَلْزِمُ فَاعِلًا فَهُوَ جُمْلَةٌ وَالْاِسْمُ مُفْرَدٌ لَا

يَسْتَلْزِمُ غَيْرَهُ فَالْفِعْلُ اَزِيْدُ مِنَ الْاِسْمِ فِي الْوُجُوْدِ وَالْوَاوُ اَثْقَلُ مِنَ حُرُوْفِ الْمَدِّ وَاللِّيْنِ

وَالضَّمَةُ اَثْقَلُ الْحَرَكَاتِ وَ الْمُتَحَرِّكُ اَثْقَلُ مِنَ السَّاكِنِ فَزِيْدَتِ الْاَلِفُ تَنْبِيْهًا عَلى ثِقْلِ

الجُمْلَةِ فَافْهَمْ.

قاعده:

کله – کله د فعل د جمعي صيغې په اخر کښې چې الف دی حذف کيږي، د هغه

وجه: لکه: سَعَوْ فِيْ ايتِنَا مُعَاجِزِيْنَ. [سباء ۵]

د فعل د جمعي د صيغي الف چې حذف کيږي د هغه وجه داده: دا حذف کول

يې د فعل په عدم صحت او عدم وجود دلالت کوي، يا په دې دلالت کوي چې دا

فعل يو عقلي شی دی، عقلي هم داسي دی لکه معدوم، په دا ايات کښي د دوی

کوشش او سعی کول باطله ده او په باطل شي کښي سعی کول وجود او ثبوت

صحيح نه دی.

وَ قَدْ تَسْقُطُ فِيْ مَوَاضِع لِلْتَنْبِيْهِ عَلى اِظَمِحْلَالِ الْفَعْلِ نَحْوُ: سَعَوْ فِي ايَتِنَامُعَاجِزِيْنَ

[سورة سباء ٥] فَاِنَّهُ سَعْیٌ فِي الْبَاطِلِ لَا يَصِحُ لَهُ ثُبُوْتٌ فِي الْوُجُوْدِ.

وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ [اعراف ١١٦] جَآءُوْ ظُلْمًا وَزُوْرَا [الفرقان ۴] وَ جَأءُوْ عَلی

قَمِيْصِهِ [يوسف ١٨]

جمله من حيث الجمله:

جمله من حيث الجمله کې اختلاف دی:

بعضي حضرات وايې: مبني الاصل ده؛ دليل يې دادی چې مبني الاصل بغير دليل مبني ده نو جمله من حيث الجمله هم بغير دليل مبني دی.

دوی وايې که جمله من حيث الجمله مبني غير الاصل شي، بيا د مبني الاصل سره مشابهت غواړي او دلته هيڅ مشابهت هم نسته.

بعضي حضرات وايي جمله من حيث الجمله مبني غير الاصل ده، د مبني غير الاصل تعريف داسي نه کوي چې د مبني الاصل سره مشابهت غواړي.

تحقيق دادی: که جمله د هغو جملو څخه وه چې محل د اعراب نه لري نو مبني الاصل ده، که د هغو جملو څخه وه چې محل د اعراب لري نو مبني غير الاصل ده.

چې محل د اعراب لري هغه پنځلس ١٥ دي، چې محل د اعراب نه لري هغه دولس ١٢ دي.

قاعده:

موصول په دوه قسمه دی: ((١) موصول حرفي (٢) موصول اسمي) که د موصول حرفي په جواب کې صله واقع شوه هغه ته جمله او کلام دواړه ويل کيږي، که د موصول اسمي په جواب کې صله واقع شوه هغه ته صرف جمله ويل کيږي.

قاعده:

داسم ظرف له الفاظو څخه (يوم) كله د مفرد كله د جملې و طرف ته مضاف وي.

كه د مفرد طرف ته مضاف و په دې صورت كې معرب ده، كه د جملې طرف ته مضاف و په دې صورت كې مبني ده،

په لفظ د يوم كله الف لام وي كله نه وي، كه الف لام په داخل و د ما بعد فعل لپاره مفعول فيه جوړيږي مثلاً: اَلْيَوْم نَخْتِمُ عَلى اَفْوَاهِهِم ٦٥ [يس.]

كه الف لام نه و په داخل د ماقبل فعل لپاره مفعول فيه جوړيږي مثال: وَ يَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ٤٠ الايه

چې د مفرد طرف ته مضاف وي د هغه مثال: وَ الَّذِيْنَ اِتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَة [٢١٢ بقرة]

ترکیب: موصول و صله مبتداء، فوق او یوم د محذوف ثابت لپاره مفعول فیه بیا ثابت د مبتداء لپاره خبر جوړیږي.

کله – کله یوم د ظرف د معنی څخه خالي وي په هغه صورت کې مفعول به جوړیږي مثال: وَ اتَّقُوْا يَوْمًا لا تَجْزِىْ نَفْسٌ عَنْ نَفْسٍ شَيْأً [۴۸ بقرة] هکذا في آية ۱۲۳سورة بقرة.

قاعده:

اَيُّ په پنځه قسمه ده: ((۱) شرطیه (۲) استفهامیه (۳) وصلیه (۴) صفتیه کمالیه (۵) موصوله)، اَيُّ شرطیه، استفهامیه او کمالیه معرب دي او اَيُّ وصلیه مبني ده.

د اَيُّ موصلې څلور صورته دي په درو صورتو کې معرب په یو صورت کې مبني ده.

۱- اَيُّ شرطیه شرط او جزاء غواړي، اَيُّ شرطیه همیشه د معرفې طرف ته مضاف کیږي، په اَيُّ شرطیه باندي د

مضاف اليه په اعتبار سره اعراب جاري کيږي، که يې مضاف اليه ظرف و مفعول فيه جوړيږي، که يې مضاف اليه مصدر و مفعول مطلق جوړيږي، که ددې صورتو څخه علاوه وو بيا مفعول به جوړيږي. دا په هغه صورتو کې که فعل متعدي و مفعول يې ذکر نه و او که چيري فعل لازمي و يا متعدي و مفعول به يې ذکر و په دې صورت کې اَيٌّ مبتداء جوړيږي شرط يا شرط او جزاء دواړه خبر ورته جوړيږي او که حرف جر په داخل و بيا تعلق غواړي.

٢- اَيٌّ استفهاميه معرب همېشه مضاف وي کله د معرفې کله د نکرې طرف ته وي.

که د اَيٌّ استفهاميه وروسته فعل لازمي يا فعل متعدي مفعول به يې ذکر و يا جار مجرور يا ظرف و نو په دې صورتو کې اَيٌّ مبتداء جوړيږي.

که د اَيٌّ استفهاميه وروسته اسم معرب راغلی و نو اَيٌّ د معرب لپاره خبر جوړيږي او که د اَيٌّ استفهاميه وروسته

فعل متعدي راغلی و مفعول به يې ذکر نه و نو اَيٌّ مفعول به ورته جوړيږي، که اَيٌّ استفهاميه مصدر ته مضاف و بيا مفعول مطلق جوړيږي، که ظرف ته مضاف و بيا مفعول به جوړيږي.

۳- اَيٌّ وصليه همېشه د حرف نداء او د هاء تنبيه په منځ کې واقع کيږي، د اَيٌّ وروسته به ګورو اسم جامد دی که مشتق که جامد و مبدل منه او بدل يا مبين او عطف بيان جوړيږي او که مشتق و موصوف او صفت جوړيږي.

۴- اَيٌّ صفتيه کماليه د نکرې وروسته راځي، د نکري لپاره صفت جوړيږي، کله- کله د معرفې بعد راځي د معرفي څخه حال جوړيږي او اَيٌّ صفتيه همېشه د نکري طرف ته مضاف وي.

۵- د اَيٌّ موصولې څلور صورته دي په درې صورتونو کې معرب په يوه صورت کې مبني ده:

۱- صدر صله او مضاف اليه دواړه ذکروي مثال: اَيُّهُمْ هُوَ قَائِمٌ معــــرب ده.

۲- صدر صله او مضاف اليه دواړه ذکر نه وي مثال: اَيٌّ قَائِمٌ معـــــرب ده.

۳- صدر صله ذکر وي مضاف اليه ذکر نه وي مثال: اَيٌّ هُوَ قَائِمٌ معرب ده.

۴- صدر صله ذکر نه وي مضاف اليه ذکر وي مثال: اَيَّهُمْ قَائِمٌ مبـــــني ده.

قاعده قَالَ يَقُوْلُ:

قَالَ په دو معناوو راځي: (۱) خفتن (۲) ګفتن

که د خفتن په معنی سره و نو فاعل سره تام کيږي مثال: مَنْ قَالَ قَالَ اللهُ فَقَدْ كَفَرَ.

که د ګفتن په معنی سره و بيا څلور شيان غواړي: (۱) فاعل (۲) قائل (۳) قول (۴) مقوله. مثال: قَالُوْا اَسَاطِيْرُ الْاَوَلِيْنَ. واو (فاعل) دی، قائل يې الله تعالی دی، قائل او

فاعل چې دواړه سره يو ځای شي دا قول دی، هِيَ (مبتداء) محذوف اساطير الاولين يې خبر دا جمله اسميه مقوله سوه.

مبتداء په پنځلس ځايه کښې حذف کيږي، يو ځای دادی چې د قول په مقوله کې وي.

کله – کله فاعل او قائل يو شی وي لکه: قَالَ اللّٰهُ. کله – کله سره جلا وي لکه: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدْ، قائل يې الله تعالی دی فاعل يې انت ضمير دی.

قال يقول باب هميشه متعدي وي، مقوله منصوب وي دا په اصل کښې مفعول به ده

قاعده:

اِلَّا په دوه قسمه ده (۱) اِلَّا مرکبه (۲) بسيطيه.

اِلَّا مرکبه د ماقبل کلام څخه اعراض کوي، اِلَّا مرکبه د اِنْ او لا څخه مرکبه ده، علامه يې داده: د اِلَّا څخه مخکې حرف عطف اکثر وخت (واو) راځي او د اِلَّا

وروسته (فاء) راځي مثال: اِنْ كَانَ اِذْعَانًا لِلّنِسْبَةِ فَتَصْدِيْقٌ و اِلَّا فَتَصَوُّرٌ.

د اصل را کښلو طريقه یې داده: اِنْ په خپل ځای د اِلَّا په ځای لَمْ د ماضي شرط په ځای فعل مضارع بايد راوړل شي مثال: اِنْ كَانَ اِذْعَانًا لِلّنِسْبَةِ فَتْصْدِيْقٌ وَ اِلَّا فَتَصَوَّرٌ. (شرح التهذيب: ص: ۶) اِنْ لَمْ يَكُنْ اِذْعَانًا لِلّنِسْبَةِ فَتَصَوُّرٌ:

اِلَّا بسيطيه ته اِلَّا استنافيه يا اِلَّا حصريه ويل کيږي .

کله – کله د اِلَّا مرکبه وروسته د (فاء) په ځای (الا) راځي د هغه طريقه داسي ده آدات شرط په خپل ځای د الّا په ځای لَمْ، اول شرط چې ماضي ده په مضارع سره يې واړه وه، د شرط ثاني په ځای شرط اول راوړه، د جزاء ثاني په ځای جزاء اول راوړه، اول شرط او جزاء دواړه مثبت وه، دوهم شرط او جزاء منفي سوه. مثال: وَ مَنْ اِسْتَہَلَّ صَلَّى عَلَيْهِ وَ اِلَّا لَا. وَ مَنْ لَمْ يَسْتَہِلَّ لَا صَلَّى عَلَيْهِ.

قاعده:

جار مجرور د جملې جزء تام نه جوړیږي؛ ځکه جار مجرور غير مستقل دی، که يې جزء تام جوړ شو په هغه صورت کې بيا تعلق نه غواړي مثال: وَ مَا آهِلّ بِهِ لِغَيْرِ اللّٰهِ (بقره: ۱۷۳) (به) نائب فاعل دی د جملې جزء تام دی تعلق نه غواړي، با زائده سوه نائب فاعل خو مستقل وي.

پای

کتب النحو

جامع الدورس	النحو الكافي
موسوعه	حاشيه خضري
نحو الوافي	الانصراف في النحو
شرح شزور ذهب	اعراب القرآن محمود صافي والا
علل النحو	اعراب القرآن درويش والا
المنهاج عربي	اوظاع المسالک الی الفيه ابن مالک
اشموني	قطر ندی بل صدّی
شرح اشموني	النحويون و القرآن
شرح ابن عقيل	مغني اللبيب حاشيه دسوقي والا
الفيه ابن مالک	الفواكة الجنيه
متن متين	تصريح شرح توضيح
الاصول في النحو	رضي على الكافيه
مفصل	شرح متوسطة
قواعد الاعراب	خضري
شرح مفصل	حاشيه صبَّان
کتاب جمل	اسرار العربيه

كواكب الدريه	حاشيه ابي منجا
جمع الجوامع	حاشيه ابن عقيل منحة الجليل
معاني النحو	همع الهوامع
شرح اجروميه	شرح انموزج
لواء الهدى	تهذيب التوضيح
مفتاح النحو	تسهيل الكافيه
المنهاج في القواعد	مسالك البهيه
جهد قصير فارسي	كتاب سبويه
نشأة النحو	الاشباه والنظائر
الاضداد في كلام العرب	كتاب الافعال
ليس في كلام العرب	كليات ابي البقاء
المفصل في صنعة الاعراب	كتاب الاظهار و العوامل بر كوي
بدر السعيد پښتو/ أردو	متممة الاجروميه
الغاز النحويه	القواعد الاساسية
المقدمة المفيدة في القواعد النحويه	موصل الطلاب شرح قواعد لاعراب
مقاصد النحويه	فتح رب البرية
الكتاب ملحة الاعراب	كشف نقات
و ما ينصرف و ما لاينصرف	جامع المقدمات فارسي